کله چې جنازه کښېودل شي او سړي يې پر خپلو اوږو بار کړي، نو که مړی نېک انسان وي وايي: وړاندې مې کړئ

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «کله چې جنازه کښېودل شي او سړي يې پر خپلو اوږو بار کړي، نو که مړی نېک انسان وي وايي: وړاندې مې کړئ (يعنې ژر مې يوسئ) او که ناصالحه (ګناهګار) وي وايي: هلاکت دی، چېرته يې وړئ؟ د دې غږ هر څه اوري پرته له انسانانو، او که انسانان يې واوري، نو بې هوښه به شي».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

پېغمبر ﷺ خبر ورکړی چې کله جنازه پر کټ کښېودل شي او سړي يې پر اوږو بار کړي، نو که چېرته د نېک انسان جنازه وي وايي:- ما وړاندې کړئ- يعنې ژر مې ځای ته ورسوئ، د هغو نعمتونو له امله چې دی يې ګوري او که ناصالحه وي، نو يو بدرنګه کړيکه به وکړي چې «هلاکت دی، دا چېرته وړئ؟! د هغه عذاب له امله چې دی يې خپلې مخې ته ګوري، غږ يې له انسانانو پرته هر څه اوري، او که انسانان يې واوري نو د شدت له امله به يې بې هوښه شي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3554